AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

علم گل سحر
۲۰۲۱/۰۲/۱۱

# قانوني چلوونکی

## (طنز)

لاس مې ورجګ کړ، ټکسي ودرېدله
چلوونکي ته مې وويل:
- سهار په خير، ساموتچنايا ډګر ته ځم، خو لږ تلوار لرم...
و يې ويل:
- مهرباني وکړئ، هر ځای ته مو چې زړه وي، و به مو رسوم.
پنځه دقيقې وروسته ټکسي ودرېدله، د ټکسي ميټر ۴۹ کپيکه ښوول، يو روبل مې ورکړ.
چلوونکي وويل:
- ډېر وبښئ، هاء ورې پيسې نه لرم.
ځيل جيبونه مې ولټول، يو پنځوس کپيکې نوټ مې پيدا کړ.
چلوونکي په عذروويل:
- ان يو کپيک هم نه لرم.
په موسکا مې وويل:
- اوه، مهمه نه ده.
چلوونکي اعتراض وکړ:
- اوه، نه نه کېږي، انعام نه غواړم.
و مې خندل و مې ويل:
- ډېر خوښ يم، چې داسې څه اورم. اوس نو څه بايد وکړو؟
چلونکي وويل:
- هلته د ميدان په کونج کې د سګرټو کراچې ده هغه کولای شي ستاسې پيسې ماتې کړي.
زما له بدو طالعو کيڼ اړخ ته تاويدل بندو، نا چار ښي لاس ته تاو شوو، خو هغه واټ هم يو طرفه و،څه سر مو خوږوم، کله چې هلته ورسېدو، د سګرټو پلورنځې بندو، د ټکسي ميټر ۹۷ کپيکو ته رسيدلی و.
چلوونکي په ډېر خجالت سره وويل:
- ورې روپۍ نه لرم، انعام هم نه اخلم.
و مې ويل:
- ډېره په زړه پورې ده، بيا نو د دريو کپيکو په اندازه ولاړ شه چې يو روبل شي.
کابو درې سوه متره نور ولاړو، ټکسي ميټر پوره په يوه روبل ولاړ و. و مې ويل:
- و يې دروه، دلته ښکته کېږم.
چلوونکي وويل:
- خواشينې يم، دلته نه شم کولای ودرېږم، هغه لوحه نه وينې؟
- بيا دې نو د ټکسي ميټر ودروه.
- دا د قانون او مقرراتو خلاف کار دی. کله چې مسافر په موټر کې وي، ټکسي ميټر بايد کار وکړي.
کله چې داسې ځای ته ورسېدو، چې هلته درېدل آزاد ول، ټکسي ميټر يو روبل او شل کپيکو ته رسيدلی و.
سوړ اسويلی مې له خولې ووت.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

چلوونکي په زړه سوي وويل:
- خواشینی کېږه مه، یو فکر به پرې وکړو، د اوسپني د پټلی په تم ځای کې د پس انداز د صندوق ځانګه شته، یو دوست مې هلته کار کوي، په یوه شېبه کې به پیسې راته ماتې کړي.
موټر حرکت وکړ.
زما له بدو طالعو د تم ځای د پس انداز د صندوق ځانګه تړلې وه. د هغوی د غرمې د ډوډۍ وخت و، له ناچارۍ د کورسک د اوسپني لارې تم ځای ته ولاړو.
چلوونکي د دې لپاره ، چې ماله یوازېتوب راوباسي، دوه کسه نور هم په موټر کې سپاره کړل. د کورسک په تم ځای کې مې بخت ملګری و، د هغه ځای دپس انداز صندوق هم تړلی و. خو ټکسي میټر پوره په دریو روبلو ولاړو. یو درې روبلي نوټ مې چلوونکي ته ورکړ، نوټ یې په جیب کې واچاوو، ټکسي میټر یې بند کړ، ویې ویل:
- ډېر وبښه چې داسې وشول. خو زه هیڅکله ځان ته دا اجازه نه ورکوم، چې آن یو کپیک له خپلو مسافرو څخه واخلم.
و مې ویل:
- ستاسې دا اخلاق د ستاینې وړ دي. خو اوس زه څنګه ځان د ساموتچنایا ډګر ته ورسوم.
چلوونکي خپل ټکسي میټر چالان کړ وې ویل:
زه
پنځه دقیقې وروسته د ساموتچنایا میدان ته ورسېدو ټکسي میټر پوره په ۴۹ کپیکه ولاړ و...[1]

لیکوال: ګریګوري ګورین (روسیه)
ترجمه: علم ګل سحر

---

[1] یادونه: دغه طنز تر ما د مخه ښاغلي احسان آرینزي او عزت الله پیژاند پښتو ته را اړولي و، چې ما له دوی وروسته وژباړه او له ژباړلو وروسته خبر شوم چې دغه طنز لا دمخه ژباړل شوی دی.
ع. سحر


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ